# شتمنی SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت


**ابو هريره رضي الله عنه فرمايي:** رسول الله ﷺ هيڅکله د طعام او ډوډۍ عيب نه دئ بيان کړی، که به ئې اشتها وه؛ نو خوړه به ئې او که به ئې خوښه نه سوه؛ نو بيا ئې خوراک نه کاوه. [صحيح البخاري (۴۵۶۳) او (مسلم ۲۰۴۶]

**ابو هريره رضی الله عنه می فرمايد:** رسول الله ﷺ هيچگاه عيب طعام و غذا را بيان نمی کرد، آنگاه که مشتهی می شد غذا را صرف می کرد اما وقتيکه ميل خوردن نداشت از خوردن انصراف می کرد. [صحيح البخاري (۴۵۶۳) و(مسلم ۲۰۴۶]

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)


پنجشنبه| د جمادی‌الاول ۱۹-۱۴٤٦ال س/ د لیندۍ ۱-۱٤۰۳ال ل/ د نومبر ۲۱-۲۰۲٤ز/خلورم کال / ۱۲۳ گڼه/ ٤ مخيزه




# سرمقاله

## سیستم پرداخت معاشات کارمندان دولت

سیستم پرداخت حقوق و معاشات کارمندان دولت یکی از اصولی‌ترین و اساسی‌ترین بخش‌های هر حکومت است که بر پایه شفافیت، دقت و سرعت استوار است. هدف اصلی این سیستم، تضمین پرداخت دقیق و بدون کم کاستی معاشات کارمندان در اسرع وقت است. دیجیتالی شدن این سیستم یکی از مهم‌ترین تحولات در این حوزه بوده که علاوه بر افزایش سرعت پرداخت‌ها، از سوءاستفاده‌های شخصی جلوگیری و شفافیت در روند پرداخت‌ها را فراهم می کند. وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان با در نظرداشت پیشرفت ها و دیجیتلی شدن جهان امروز سیستم معاشات را دیجیتال ساخته و در این بخش دلایلی دیگری نیز وجود دارد. اول اینکه با تطبیق این سیستم در پرداخت معاشات کارمندان سرعت به وجود میاید، معاشات به شکل شفافتر اجراء می شود، از سوء استفاده های شخصی جلوگیری به عمل می آید و کنترول آن به گونه دقیقتر صورت میگیرد، اشتباهات انسانی در این بخش کاملاً از بین میرود که در غیر آن موجب ضررهای هنگفت می شود و بالاخره بخشی مهم که در این زمینه مدنظر گرفته می شود جلوگیری استفاده از کاغذ و قرطاسیه می باشد. همچنان وزارت مالیه بشتر از همه نگران امنیت سیستم پرداخت معاشات کارمندان می باشد. امنیت در سیستم پرداخت معاشات یکی از مهم‌ترین ابعاد آن است که برای تضمین امنیت این سیستم‌ها، کشورها تدابیری لازم به کار میگیرند که از این جمله تمرکز بر امنیت دیجیتال و استفاده از تکنالوژی‌های پیشرفته برای جلوگیری از هك و دستکاری است. جلوگیری از خارج سپاری سرورها که اکثر کشورها اجازه نمی‌دهند که سرورهای این سیستم‌ها خارج از کشور یا در دست شرکت‌های خصوصی باشد. چرا که این کار می‌تواند از دستکاری جلوگیری کند. این سیستم‌ها باید توسط افراد مسلکی و برنامه‌نویسان مجرب اداره شوند تا تمام مشکلات فنی را شناسایی و رفع کنند. ادارات دولتی باید به صورت مستمر کارمندان خود را درباره استفاده از این سیستم‌ها آموزش دهند تا از بروز اشتباهات جلوگیری شود. وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان با ایجاد چنین سیستم ها و استخدام افراد مسلکی و مجرب در تلاش است که سیستم پرداخت معاشات کارمندان دولت با دقت و شفافیت بالا عمل کند تا از کم کاستی در پرداخت‌ها و سوء استفاده‌های مالی جلوگیری صورت گیرد. امنیت این سیستم‌ها نیز باید به طور جدی در نظر گرفته و تدابیر لازم برای حفاظت از آن اجرا شود. با اتخاذ این تدابیر، می‌توان اطمینان حاصل کرد که منابع مالی امارت اسلامی به درستی و به صورت منصفانه بین کارمندان توزیع می‌شود و در نتیجه اعتماد عمومی نیز افزایش می‌یابد.

**با احترام**

**اداره**

# د روان کال د تلي په میاشت کي د هیواد گمرکي چارو (۱۸،۸) سلنه پرمختگ کړی دئ






د ماليې وزارت د گمرکونو او عوايدو معين الحاج مفتي عبدالمتين سعيد په مشرۍ د روان (۱۴۰۳) هـ.ل کال د تلي په مياشت کي په گمرکونو کي د ترسره سويو چارو د تخنيکي ارزوني ناسته پر ليکه او حضوري بڼه وسوه. په دغه ناسته کي د روان (۱۴۰۳) هـ.ل کال د تلي په مياشت کي په گمرکونو کي د ترسره سويو فعاليتونو ټوليز راپور وړاندي سو. په ياده موده کي د عوايدو د راټولېدو، د هيواد په گمرکونو کي د ترسره سوي سوداگرۍ، د وارداتي توکو د گمرکي ارزښت او د سوداگريزو محمولو د شمېر او ثبت سوي وزن په اړه بشپړ معلومات وړاندي سول، چي له مخي ئې د تېر کال د همدې مودې په پرتله، د گمرکونو چاري (۱۸،۸) سلنه مثبتي وښودل سوې. د وړاندي سوي راپور په تړاو هر اړخيز تخنيکي بحثونه وسول او د چارو د لا پرمختگ په موخه د ولايتي گمرکونو د مسئولينو ستونزي او وړانديزونه واورېدل سول، چي د رهبرۍ له لوري د ستونزو د حل ډاډ ورکړل سو او ورسره اړيني سپارښتني هم شريکي سوې.

# د مالیې وزارت د پالیسۍ معین د کوچنیو مالي تمویلاتو په ملي کنفرانس کي گډون وکړ



د ماليې وزارت د پاليسۍ معين انجنير سلطان محمد زبير د افغانستان بانك له لوري د کوچنيو تمويلاتو ملي کنفرانس (فرصتونه او ننگوني) تر سرليك لاندي، د پانگوني د هڅوني او د کاري فرصتونو د رامنځته کولو په تړاو جوړ سوي کنفرانس کي گډون او وينا وکړه. په دغه کنفرانس کي د اسلامي امارت د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال، د کابينې يو شمېر غړيو، د ملگرو ملتونو، اروپايي ټولني او نړيوال بانك استازو، د بېلابېلو هيوادونو سفيرانو، د نړيوالو او کورنيو مؤسسو مسئولينو او يو شمېر ملي پانگوالو او سوداگرو گډون کړی وو. د ماليې وزارت د پاليسۍ معين ياد کنفرانس ته د خبرو پر مهال وويل، چي د کوچنيو مالي تمويلاتو سکټور د يوه هيواد د اقتصادي ودي، بېکارۍ د له منځه وړلو، فقر سره د مبارزې او کوچنيو کاروبارونو د پراختيا په برخو کي مهم رول لري. ښاغلي زبير يادونه وکړه، چي د اسلامي امارت د بيا ځلي حاکميت څخه راوروسته د کوچنيو تمويلونو سکټور چاري په مطلق ډول دريدلي وې، چي د ماليې وزارت له لوري د همدې سکټور د فعاليتونو د پيل په موخه هڅي پيل سوې او د شپږو مياشتو دوامداره هڅو په پايله کي د هيواد له ستري محکمې څخه په دې برخه کي د چارو د پيل جواز ترلاسه او په لومړي ځل شريعي مالي تمويلاتو مضاربت او مرابحې ته لاره هواره سوه. د ماليې وزارت د پاليسۍ معين همداراز زياته کړه، چي د دغه وزارت تر مالکيت لاندي د (مسفا) ادارې تر اوسه پوري له (۶۰) زرو څخه ډېر مالي تمويلات، چي څه باندي (پنځه ميلياړده) افغانۍ کېږي د مرابحې او مضاربت په شکل اجراء کړي دي او د تمويلاتو د اجراء چاري د (مسفا) ادارې له لوري د ماليې وزارت د بشپړ ملاتړ په درلودلو سره په نورمال ډول رواني دي. د يادوني وړ ده، چي د کوچنيو مالي تمويلاتو ملي کنفرانس د دغه سکټور د ودي او پراختيا او د خصوصي او دولتي سکټورونو او ملي او نړيوالو ادارو ترمنځ د همغږۍ او همکارۍ رامنځته کولو په موخه جوړ سوی وو؛ ترڅو په دې وسيله په هيواد کي د فقر کچه را ټيټه او د دندو پيدا کېدو ته زمينه برابره سي.




د ماليې وزارت په اداري ناسته کي د اداري سيستمونو پر لا پياوړتيا خبري وسوې


م ۲





د گمرکونو او عوايدو معين له يو شمېر ملي سوداگرو سره وکتل


م ۲




د کورنۍ پلټني لوی رئيس پروان، کاپيسا، پنجشير او ميدان وردگ ولايتونو ته سفر وکړ


م ۲




د گرځنده څارني کارکوونکو د تل په څېر يو ځل بيا په زياته کچه قاچاقي توکي نيولي



م ۲





اقتصادي نظامونه:


م ۳


د سارک پخواني رئيس له افغانستان سره د سوداگرۍ د پراختيا غوښتنه وکړه


م ٤

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

# برای فارغان برنامه آموزشی اساسات مدیریت ریاست های مرکزی وزارت مالیه تصدیقنامه اهداء گردید



ریاست منابع بشری وزارت مالیه برای (۱۰۰) تن کارمند ریاست های مرکزی این وزارت که از برنامه آموزشی اساسات مدیریت فارغ گردیده بودند، طی مراسمی تصدیقنامه اهداء نمود. در این مراسم که در صالون خیبر وزارت مالیه راه اندازی گردیده بود، مولوی دوست محمد مخلص، معین اداری، مولوی عبدالهادی سیف الخالد، رئیس دعوت و ارشاد و مولوی سخی الرحمن حقیار، کارشناس بورد حقوقی اشتراک داشتند. معین اداری در سخنان اختتامیه این برنامه گفت، که مطالعه و نشستن پای درس اساتید تأثیر زیاد برای انکشاف مهارت ها و کسب دانش دارد. وزارت مالیه به عنوان یک اداره خادم چنین برنامه های آموزشی را برای انکشاف مهارت ها، بهبود امور و در نهایت ارائه خدمات بهتر به مردم و تقویت و استحکام نظام راه اندازی نموده است. پس از آن خوب استفاده نموده و هر آنچه را آموخته اید به همکاران تان انتقال دهید تا کارها به نحو احسن آن اجرا گردد. رئیس دعوت و ارشاد طی سخنانش گفت، رهبری امارت اسلامی بالخصوص وزارت مالیه زمینه فراگیری علوم عصری و دینی را برای شما فراهم ساخته است تا هم کار ها بصورت درست آن انجام شود و هم مورد رضایت الله متعال قرار گیرد. پس قدر این نعمت ها را بدانید و بابت آن شکر گذار باشید. کارشناس بورد حقوقی گفت، برنامه های آموزشی برای ارتقای ظرفیت شما راه اندازی گردیده و شما باید با استفاده از آن به دانش و مهارت های خود بیافزایید. آنچه را آموختید در ساحه عمل تطبیق کرده و مسئولیت های خود را بخوبی انجام دهید. در اخیر برای فارغان تصدیقنامه اهداء گردید و مراسم با دعای خیر اختتام یافت.

# د مالیې وزارت په اداري ناسته کې د اداري سیستمونو پر لا پیاوړتیا خبرې وسوې

د مالیې وزارت د اداري معین مولوي دوست محمد مخلص په مشرۍ د دغه وزارت اداري ناسته د بېلابېلو برخو د رئیسانو په ګډون ترسره سوه. د مالیې وزارت اداري معین د ناستي په پیل کې د ښکېلو ریاستونو د مثبتو کړنو ستاینه وکړه او په چارو کې د لا ښه والي او پرمختګ په موخه ئې له مسئولینو سره اصلاحي لارښووني شریکې کړې. په دغه ناسته کې د چارو د لا ښه والي په موخه د لا ډېرو اسانتیاوو پر رامنځته کولو، اداري




سیستمونو ته د لا پراختیا په ورکولو، د چارو د لا اغېزمنتوب په موخه د اړوندو ریاستونو ترمنځ د ښې همغږۍ پر زیاتېدو او د تېر کال د نیمګړتیاوو پر اصلاح بحثونه وسول او د ځینو موضوعاتو په تړاو لازمي پرېکړې وسوې. د یادوني وړ ده، چې د مالیې وزارت په هره اداري ناسته کې د دغه وزارت د بېلابېلو ریاستونو د چارو ارزونه، د نیمګړتیاوو پر بشپړولو او ستونزو ته د حل لارو پر موندلو بحث کېږي.

# د ګمرکونو او عوایدو معین له یو شمېر ملي سوداګرو سره وکتل

د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید، د افغانستان د سوداګرۍ او پانګوني خوني د مسؤلینو په شتون کې، له یو شمېر ملي سوداګرو سره وکتل. په دې کتنه کې دواړو لوریو د سوداګریزو توکو پر ګمرکي تعرفې، د کورنیو تولیداتو د صادرولو په برخه کې د لازمو اسانتیاوو پر رامنځته کېدو، له اړوندو ادارو سره د سوداګرو په سته ستونزو او حل لارو، د مالیاتو د ورکړې په برخه کې پر اسانتیاوو او د یو شمېر نورو موضوعاتو په اړه بحث او خبرې وکړې او په اړه ئې لازمي پرېکړې وسوې. د ګمرکونو او عوایدو معین راغلو سوداګرو ته ډاډ ورکړ، چې د تل په څېر به د دوی اصولي غوښتنو ته رسېدنه کوي او له اړوندو ادارو سره به د حل په موخه د دوی ستونزې هم شریکې کړي.




# د کورنۍ پلټني لوی رئیس پروان، کاپیسا، پنجشیر او میدان وردګ ولایتونو ته سفر وکړ

د مالیې وزارت د کورنۍ پلټني لوی رئیس ښاغلي انجنیر عبداللطیف خالد او ورسره مل تخنیکي پلاوي د پلټني سپارښتنو د تطبیق تعقیبولو په موخه پروان، کاپیسا، پنجشیر او میدان وردګو ولایت ته سفر وکړ او د دغو مستوفیتونو چاري ئې له نږدې وارزولې. د یادو مستوفیتونو د رهبرۍ غړو د کورنۍ پلټني لوی ریاست پلاوي ته د هرکلي ترڅنګ د دې ریاست هڅې وستایلې او د دغه ډول سفرونو او ناستو په اړه ئې خوښي څرګنده کړه. ښاغلي خالد د پلټونکو له لوري د ورکړل سویو اصلاحي سپارښتنو د تطبیق د اهمیت په اړه خبرې وکړې او د یادو ادارو له مسئولینو څخه ئې وغوښتل، چې د چارو د سمون او اصلاح په خاطر د پلټني سپارښتني پرته له ځنډ څخه تطبیق او د کورنۍ پلټني




لوی ریاست ته وخت په وخت ډاډ ورکړي. له نېکه مرغه یادو ادارو ډېرۍ سپارښتني پلي کړي دي او پلاوي ته ئې د پاتي سپارښتنو د ژر تطبیق ډاډ ورکړ. ورپسې د کورنۍ پلټني لوی رئیس د دغو مستوفیتونو له هري شعبې څخه لیدنه وکړه، د مسئولینو او کارکوونکو ستونزې او غوښتنې ئې واورېدې او د حل په موخه ئې ورسره لازمي مشورې شریکې کړې او ژمنه ئې وکړه، چې د ښې رسېدني په پار به د دوی غوښتني د مالیې وزارت له قدرمن مقام سره شریکې کړي. د یادوني وړ ده، چې د کورنۍ پلټني لوی رئیس د ذکر سویو ولایتونو له مستوفیانو سره د لیدني سربېره، د پروان ولایت له والي ښاغلي مولوي قدرت الله او همدارنګه د میدان وردګو ولایت له والي ښاغلي قاري بختیار معاذ سره د جلا ناستو په لړ کې په ولایتي کچه د ملي بودیجې د اغېزمنې کاروني او په رڼه او شفافه توګه د ملي عوایدو د راټولوني په برخه کې له اړوندو مستوفیتونو سره د همکارۍ په اړه خبري وکړې، چې یادو مسئولینو د کورنۍ پلټني لوی رئیس ته له مستوفیتونو سره د هر اړخیزي همکارۍ ډاډ ورکړ.

# د ننګرهار په ګمرک کې (۲۸۴) کیلو ګرامه ثانیه سوز نیول سوي دي

د ننګرهار ګمرک د تشریح مدیریت کارکوونکو په یوه سوداګریزه محموله کې (۲۸۴) کیلوګرامه ثانیه سوز کشف او ترلاسه کړي دي. دغه ممنوعه توکي په ډېره څیرکتیا سره په لېږدوونکي وسیله کې ځای پر ځای سوي ول او تورنو کسانو غوښتل، چې په پټه ئې له ګاونډي هیواد څخه افغانستان ته راوړي. د پېښي په تړاو څلور کسان لاس په لاس نیول سوي دي او د نورو اجراآتو له پاره اړوندو ارګانونو ته سپارل سوي دي. د یادوني وړ ده، چې اوس مهال د مالیې وزارت له لوري د هیواد په ټولو ګمرکونو کې د قاچاقي او ممنوعه توکو څخه په جدي ډول څارنه کېږي او هیچا ته اجازه نه ورکول کېږي، چې توکي په ناقانونه توګه ولېږدوي.



# د کندهار ولایت د مستوفیت ۴۵ تنو کارکوونکو له پاره روزنیز پروګرام پیل سو

د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ د (۱۴۰۳هـ.ل) کال د ساحوي تدریسي پلان سره سم، د ساحوي روزنیزو پروګرامونو په لړ کې د کندهار مستوفیت ( ۴۵ ) تنو کارکوونکو له پاره د مالیاتي قوانینو، طرزالعملونو، مالیاتي محاسبې او مالیاتي سیستمونو تر سرلیک لاندي (۱۵) ورځنی ښوونیز پروګرام پیل سو. د دغه ښوونیز پروګرام موخه په یاده برخه کې د کارکوونکو ظرفیت لوړونه او د اداري چارو لا ښه پرمختګ دئ، چې




د (۱۵) ورځو په موده کې به ګډونوالو ته د مجربو ټرینرانو له لوري د نظري زده کړو تر څنګ عملي زده کړې هم ورکړل سي.

# د ګرځنده څارني کارکوونکو د تل په څېر یو ځل بیا په زیاته کچه قاچاقي توکي نیولي

د ګمرکونو لوی ریاست د ګرځنده څارني کارکوونکو تېره اوونۍ د فراه، کندهار، نیمروز، هلمند، هرات او ننګرهار په ولایتونو کې په زیاته کچه قاچاقي توکي نیولي دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې افغانستان ته راوړي. په دې نیول سویو توکو کې (۱۳۴۲۷) کیلو ګرامه مالګه، (۱۱۷۴۴) کیلو ګرامه چاکلېټ، (۴۳۸۴) کیلو ګرامه طبي درمل، (۲۷۵۱) کیلو ګرامه رُب، (۳۵۵۰) کیلو ګرامه ککاو، (۲۹٦٦) کیلو ګرامه ګوړه، (۱۵۴۰) کیلو ګرامه مکروني، (۱۱٦۵) کیلو ګرامه یو وار مصرف لوښي، (۹۲۴) کیلو ګرامه شامپو، (۱۱۵۰) کیلو ګرامه تمباکو، (۱۰۸۸) کیلو ګرامه پاکټي شیدې، (۵۱۳) کیلو



ګرامه کریم، (۴۲۳) کیلو ګرامه د قیلون مواد، (۳۱۸) کیلو ګرامه قهوه، (۴۷۵) کیلو ګرامه لوبیا، (۳۵) کیلو ګرامه تار او (۳۵) عرادې موټرسایکلونه شامل دي. نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو ګمرکونو ته سپارل سوي دي.

شتمنۍ SHTAMANI اوونیزه

# اقتصادي نظامونه

محمد ضمیر ستانکزی

بې له شکه چي انسانان د الله تعالی له غوره مخلوقاتو څخه شمېرل کېږي او الله تعالی دوی ته د نورو مخلوقاتو په پرتله د فکر کولو وړتیا ورکړې ده. انسانانو ته په کار ده، چي هر کار او هر عمل په ښه توګه ترسره کړي. انسانان په ټولنه کي د ژوند کولو او مثبتو بدلونونو رامنځته کولو لپاره ټولنیز، اقتصادي، سیاسي او فرهنګي نظامونو ته اړتیا لري. له نېکه مرغه انسانانو بلخصوص مسلمانانو ته چي الله تعالی کومي وړتیاوي ورکړې دي، دوی خپلي وړتیاوي وپېژندلې او خپلي وړتیاوي ئې د خپلو هیوادونو د پرمختګ وسیلې وګرځولې او خپلي وړتیاوي ئې په سمه توګه په کار واچولې. د اسلام مبارك دین له ظهوره سره سم الله تعالی د ټولو چارو د ښه ترسره کولو په موخه نظامونه رامنځته کړل او د اقتصادي نظامونو د رامنځته کېدو لامل هم مونږ کولی سو، چي اسلام او مسلمانان وګڼو. له بده مرغه مسلمانانو ته، چي څنګه په کار وه هغسي ئې اقتصادي نظامونه ته پراختیا ورنکړه او د نویو رامنځته سویو اقتصادي نظامونو کریډیت هم غیر مسلمانانو واخیست.

د اقتصادي نظامونو تعریف: اقتصادي نظامونه عبارت له هغي وسیلې څخه دي، چي د یوې ټولني یا نظام چي په یوه جغرافیایي سیمه کي موقعیت ولري، موجودي سرچینې، خدمات او توکي تنظیم او وېشي. اقتصادي سیستمونه د تولید عوامل تنظیموي، لکه ځمکه، پانګه، کار، فزیکي سرچینې او ځیني نور ... په یوه اقتصادي نظام کي څو مهم بنسټونه، اداري، نهادونو د پرېکړي کولو څو مرجع شاملي دي، چي د یوې ټولني اقتصادي جوړښت تشکیلوي. د یادوني وړ ده، چي په اوسنۍ نړۍ کي څلور لوی اقتصادي نظامونه یا سیستمونه شتون لري، چي عبارت دي له:

۱-کپیټلیزم یا د سرمایه دارۍ نظام
۲-سوسیالیستي اقتصادي نظام
۳- میکس اقتصادي نظام
۴- اسلامي اقتصادي نظام

### ۱- کپیټلیزم یا د سرمایه دارۍ نظام:

دا نظام په لومړي ځل د یوه سکاټلنډي اقتصاد پوه او پروفیسور له لوري، چي نوم ئې آدم سمېټ وه په کال (۱۸۳٤) م کي رامنځته سو. دا هغه نظام دئ په کوم کي چي اشخاص تولیدي عوامل د خپلي شخصي ګټي د ترلاسه کولو له پاره استعمالوي. سرمایه داري نظام په شخصي ملکیت باندي ولاړ دئ او د شخصي ګټي د لاسته راوړلو له پاره په کار وړل کېږي. اوس مهال په ځینو هیوادونو کي دا سیستم مروج دئ؛ لکه: امریکا، غرب، اروپا او د اسیا په زیاترو هیوادونه. وروسته له دغه اقتصادي نظام څخه ځیني نور اقتصادي نظامونه رامنځته سول، چي لامل ئې له ټولنیزو اړتیاوو، فرهنګي پراختیا او ټولنیزو تغییراتو سره تنوع او تطابق او نوښتونه وبلل سول. بل پلو د سرمایه دارۍ په نظام باندي نیوکي وسوې او ځیني زیانونه ئې درلودل، چي دا چاره د دې لامل سوه، چي نور اقتصادي نظامونه رامنځته سي. همدارنګه دغو نظامونو تر ډېره بریده ګټي هم درلودې.

**ګټي:**

**آزاد بازار:** آزاد بازار یو اقتصادي سیستم دئ، چي په هغه کي د توکو او خدماتو بیې د عرضه او تقاضا له مخي ټاکل کېږي، چي د پلورونکي او پېرېدونکي لخوا څرګندېږي.

**اغېزمن تولید:** د سرمایه دارۍ په نظام کي شرکتونه او تولیدي کارخوني لیوالتیا لري؛ ترڅو ښه خدمات او محصولات خلکو ته په کم قیمت او اغېزمنه توګه وړاندي کړي.

**د کسبګرو آزادي:** سوداګر د خپلو اقتصادي پرېکړو پر اساس بازارونو ته د ننوتلو او وتلو آزاد حق لري. د تصدۍ ازادي په دې معنا ده، چي کسبګر د اقتصادي منابعو د پېرلو او استخدام له پاره ازاد وي. هر وګړی حق لري، چي پرته له کومي مداخلې خپلي اقتصادي پرېکړي وکړي.

**د مصرفوونکي حاکمیت:** مصرفوونکي د خپلو غوښتنو، اړتیاوو او بودیجې پر اساس د پېرېدونکو توکو او خدماتو غوره کولو آزاد حق لري.

**زیانونه:**

**طبقاتي تبعیض:** په دغه نظام کي بېوزله نور هم بېوزله او شتمن د نوري شتمنۍ څښتن کېږي.

د بې کارۍ او کم کارۍ زیاتوالی: په دغه نظام کي بازار په انحصار کي وي او نورو خلکو ته د کار زمینه نه برابرېږي.

**کسبګر ډېر سیالان لري:** هر کسبګر یا تولیدي کارخوني په دې هڅه کي وي، چي په ټیټه بیه غوره محصولات او خدمات خلکو ته وړاندي کړي؛ تر څو وکولی سي په مارکېټ یا بازار کي خپل ثبات رامنځته کړي او داسي نور...



### ۲- سوسیالیستي اقتصادي نظام:

دا نظام په لومړي ځل په (۱۸۳۲) م کال د کارل مارکس په نامه یوه جرمني لیکوال، ساسیتوال، تاریخپوه، اقتصادپوه او ارواپوه له لوري رامنځته سو. په دې نظام کي ټول تولیدي عوامل د حکومت تر ولکي لاندي وي. د دې نظام بنسټ ایښودونکی وایي: په دې نظام کي د کاروبار اصلي موخه انفرادي او شخصي ګټي حاصلول نه دي، بلکي ټولني او خلکو ته خدمت کول دي او په هیواد کي ټولي ځمکي او طبیعي منابع یوازي او یوازي د حکومت په اختیار کي وي. په عامه توګه کولای سو، چي ووایو په دغه نظام کي خصوصي سکټور ته پام نه دئ سوی.

**ګټي:**

۱- د منابعو غوره تشخیص او تعین ۲- چټك اقتصادي پرمختګ.

**زیانونه:**

۱ـ اقتصادي خپلواکي له منځه وړل ۲ـ د مصرفوونکو فردي ازادي له منځه وړل.

### ۳- میکس اقتصادي نظام:

میکس اقتصادي نظام هغه نظام ته ویل کېږي، چي د کپیټلیزم او سوسیالیزم اقتصادي نظامونو ترکیب وي. د کپیټلیزم او سوسیالیزم اقتصادي نظامونو په څېر میکس اقتصادي نظام هم په اوسني عصر کي په ځینو هیوادونو کي استعمالېږي. میکس اقتصادي نظام په دریو سکټورونو وېشل سوی دئ:

۱- خصوصي سکټور، چي د خصوصي سکټور ملکیت دئ.
۲-عامه سکټور، چي د دولت ملکیت دئ.
۳-ګډ سکټور، چي د خصوصي سکټور او دولت ترمنځ یو اشتراکي ملکیت وي.

**ګټي:**

۱- د انفرادي حقونو ساتنه ۲- خصوصي سکټور او دولت په ګډه کار کوي؛ تر څو خلکو ته د کار زمینه برابره کړي او خپل هیواد په اقتصادي ډګر کي له نورو هیوادونو سره سیال کړي ۳- اقتصادي ثبات، د بېلابېلو سکټورونو د ګټو په توازن او د اقتصادي بدلونونو په کمولو سره کولای سي اقتصادي ثبات رامنځته کړي.

**زیانونه:**

۱- ډېر مالیات ورکول ۲- دولتي انحصار ۳- غیر موثر قوانین او مقررات، چي د دولت له لوري رامنځته سوي دي.

### ٤- اسلامي اقتصادي نظام:

د اسلام مبارك دین له ظهوره سره سم یاد نظام رامنځته سو او زمونږ د خوږ پیغمبر حضرت محمد مصطفی(ص) له پیدایښت او نبوت سره سم وده وموندله او د چارو د ښه ترسره کولو له پاره ئې پراختیا وموندله. د پیغمبر(ص) د زمانې له اقتصادي سیاستونو څخه یو هم د فیس او کرایې اخیستل او د مدینې په بازار کي د ودانیو د ټینګښت ممانعت وو او یوازي د خېمو کارول روا ګڼل کېدل. ویل کېږي، چي دا کار ئې له بې وزله سوداګرو سره د مرستي په موخه کړی وو.

**زکات:** په ځینو مالونو لکه؛ په ځینو کرنیزو محصولاتو باندي مالیه، چي د دې مالیاتو هدف په واضح ډول د پراخولو له پاره ټاکل سوی دئ.

**سود:** د تبادله سوو توکو ترمنځ هر ډول ډېر یا ناحقه توپیر، چي زمونږ مبارك دین په کلکه له دې امر څخه ډډه کوي. دا مفاهیم لکه د اسلامي شریعت او فقهې د نورو مفاهیمو په څېر، د پیغمبر له کیسو او احادیثو څخه اخیستل سوي، چي د مفسرینو لخوا راټول او ستاسو حضور ته وړاندي سول.

# اعلانات داوطلبی

## د داوطلبی خبرتیا

د افغانستان اسلامي امارت د مالیې وزارت پر شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي (د ګمرکونو د ساتني قطعې قومندانۍ د اړتیا وړ ۱۸ قلمه مخابروي توکو د تدارك په پروژه) کي چي تشخیصیه نمبر ئې (G/۱٤۰۳/MOF-۹۵۰) دئ او د داخلي پرانیستي داوطلبۍ په بڼه ترسره کېږي، برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش یا میموري له لاري د شرطپاڼي له شرایطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم د لاندي ادرس څخه ترلاسه کړي.

ځای: د مالیې وزارت د تدارکاتو ریاست او د افغانستان اسلامي امارت د چارو اداري لوی ریاست اړوند د ملي تدارکاتو اداري رسمي ویب سایټ.

د آفرګشایي څخه وړاندې نېټه: د (۱۴۰۳/لیندۍ/ ۱۰) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفرګشایي ټاکلې نېټه: د (۱۴۰۳/لندۍ/ ۲۰) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفر تضمین: یوسل او پنځوس زره (۱۵۰۰۰۰) افغانۍ.

د اړیکو شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦

په ځنډ رسېدلي او انټرنیټي افرونه د منلو وړ نه دي.

## اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاك دولتی وزارت مالیه یک باب آپارتمان به مساحت(۱۳۲) مترمربع واقع چهار راهی انصاری مربوط ناحیه (٤) شاروالی کابل را به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(٦۰٦۰۰) افغانی برای مدت (۳) سال به شکل آفر سر بسته به اعلان داوطلبی می سپارد.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر): ٣٤,٥٣٢٦٥- ٦٩,١٦٥٦٠٧

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد فوق باشند میتوانند درخواست های شان را بعد از تاریخ ۲۹ /عقرب/ ۱۴۰۳ الی ۱۲ / قوس/ ۱۴۰۳) به ریاست عمومی املاك دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس: سینما پامیر تعمیر۱۴ منزله، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار داد های مرکز.

شماره های تماس: (۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷- ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤)

تاریخ مجلس داوطلبی ۱۳/ قوس/ ۱۴۰۳ به ساعت(۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

## د داوطلبی خبرتیا

د افغانستان اسلامي امارت د مالیې وزارت پر شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي (د مالیې وزارت اړوند د پکتیا ګمرك سولر سیستم لپاره د توکو د تدارك په پروژه) کي چي تشخیصیه نمبر ئې (G/۱٤۰۳/MOF-۰۲۲ – Rebid) دئ او د داخلي پرانیستي داوطلبۍ په بڼه ترسره کېږي، برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش یا میموري له لاري د شرطپاڼي له شرایطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم د لاندي ادرس څخه ترلاسه کړي.

ځای: د مالیې وزارت د تدارکاتو ریاست او د افغانستان اسلامي امارت د چارو اداري لوی ریاست اړوند د ملي تدارکاتو اداري رسمي ویب سایټ.

د آفرګشایي څخه وړاندې نېټه: د (۱۴۰۳/ لیندۍ/ ۰۵) د سهار ۱۱:۰۰ بجې.

د آفرګشایي ټاکلې نېټه: د (۱۴۰۳/لندۍ/ ۱۵) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفر تضمین: درې سوه او درې دیرش زره (۳۳۳۰۰۰) افغانۍ.

د اړیکو شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦

په ځنډ رسېدلي او انټرنیټي افرونه د منلو وړ نه دي.

## د داوطلبی خبرتیا

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست، غواړي چي د کابل ښاروالۍ (۵) مې ناحیې اړوند کوټه سنګي کي د نظیف مارکېټ (۱۰) بابه دوکانونه د یو کال لپاره د داوطلبۍ له لاري اعلان ته وړاندي کړي.

۱- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب B۲٦-۲۷ نمبر دوکان چي (۲٤) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۸۰۰۰) افغانۍ ده.
۲- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب B۲۸ نمبر دوکان چي (۱۲) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.
۳- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب B۲۹ نمبر دوکان چي (۱۲) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.
۴- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب B۳۰ نمبر دوکان چي (۱۳۰,۷۵) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤۰۰۰۰) افغانۍ ده.
۵- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب B-۳۱-۳۲-۳۳ نمبر دوکان چي (٤۵,۷۵) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۲۰۰۰) افغانۍ ده.
٦- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب B۳٤-۳۵ نمبر دوکان چي (۳۰,۵) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۸۰۰۰) افغانۍ ده.
۷. د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب B۳۷-۳۸ نمبر دوکان چي (۳۰) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۸۰۰۰) افغانۍ ده.
۸. د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب B۳۹-٤۰ نمبر دوکان چي (۳۰) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۸۰۰۰) افغانۍ ده.
۹. د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب B٤۱ نمبر دوکان چي (۱۵) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٣٤,٥١٥٢٧٢-٦٩,١١٧٤٦

هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي دوکانونه په کرایه ونیسي، کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د (۱۴۰۳/ لړم/ ۲۸) څخه وروسته تر (۱۴۰۳/ لندۍ/۱۸) نېټې پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپاڼه ترلاسه کړي.

آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.

د داوطلبۍ نېټه: د (۱۴۰۳/ لندۍ/ ۱۹) نېټه، د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷- ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤



د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
ایکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمیره: ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه




## MoF YoY Evaluation Observes 'Customs Affairs Progressed by 18.8% in Mizan of Current FY1403'

Under the leadership of the Deputy Minister of Customs and Revenues of MoF, Alhaj Mufti Abdul Matin Saeed, a technical assessment meeting was held online and in-person in the month of Mizan of the year 1403 (22/ Sep – 21/ Oct/ 2024). In this meeting, a comprehensive report of the activities carried out in the customs in the month of Mizan-1403 was presented. More ever, complete information was provided about the collection of revenues, the business conducted in the country's customs, the customs value of imported goods and the number and registered weight of commercial cargos related to the aforementioned period, in which the affairs of customs were observed of 18.8% positive on the basis of YoY, compared to the same period of the last year. Eventually, comprehensive technical discussions were held with regard to the presented assessment report, and the problems and recommendations of the officials of the provincial customs were heard for the further development of the affairs.

## Deputy Minister for Administrative Affairs Vows for 'Strengthening Systems'

The administrative meeting of MoF was held under the chairmanship of Maulawi Dost Muhammad Mukhlis, the Deputy Minister for Administrative Affairs, which various directors also attended. The Deputy Minister for Administrative Affairs at the beginning of the meeting praised the positive actions of the involved directorates and shared corrective guidelines with the officials for the purpose of further improvement and development. In this meeting, many necessary decisions were made for creating more facilities, giving further development to the administrative systems, increasing the good coordination between the relevant directorates for more effective affairs, and preventing defects of the last year.

It is worth mentioning that in every administrative meeting of MoF, the assessment of the affairs of different directorates of the Ministry, the completion of deficiencies and the finding of solutions to the problems are discussed.

## Sector of Microfinance Plays Crucial Role in Economi Growth, Tackling Poverty, Development of Small Businesses – DM of Policy

Engineer Sultan Muhammad Zubair, Deputy Minister of policy of MoF, participated in the conference of 'National Conference of Microfinance - Opportunities and Challenges' organized by the Central Bank of Afghanistan (DAB) related to the promotion of investment and the provision of job opportunities.


The DM for Economic Affairs of Prime Ministership of IEA, some members of the cabinet; representatives of the UN, EU and the World Bank; ambassadors of different countries, officials of international and domestic institutions, and scores of national investors and businessmen participated in this conference.

Zubair emphasized that the microfinance sector plays an important role in the economic growth of a country, eradicating of unemployment, tackling poverty and the development of small businesses. "After the re-establishment of IEA, the activities of the microfinance sector were completely stopped. As a result, a license was obtained from the Supreme Court to commence business in this arena, and for the first time, it was possible to enter into Islamic financing," told Deputy Minister.

DM of Policy of also added that administration of MISFA (Microfinance Investment Support Facility for Afghanistan) under the ownership of MoF has so far issued more than 60,000 financial fundings, amounting to five billion Afs in the form of Murabaha and Mudharabat (dealings in Islamic finance system), and the financing accomplishment process is normally done under umbrella of MISFA with the full support of the Ministry of Finance. Notably, the national conference on 'Microfinance' was organized for the growth and development of this sector and to create coordination and cooperation between the private and public sectors and national and international bodies, so that through this means the level of poverty will be declined and there will be opportunities to provide jobs.




## د سارک پخواني رئیس له افغانستان سره د سوداگرۍ د پراختیا غوښتنه وکړه



Map Of South Asia - South Asian Countries Png

د نېشن ـ THE NATION په نوم یوې پاکستانۍ رسنۍ د سوېلي اسیا د سیمه ییزې همکارۍ سازمان یا سارك ـ SAARC د پخواني رئېس خبري په یوه راپور کې راغونډې کړې دي، چې هغه وایي: له افغانستان سره دې سوداگري پراختیا و مومي.
په سارك سازمان کې افغانستان، بنگلدېش، بهوتان/ بوتان، هندوستان، مالدیف، نیپال، پاکستان او سرېلانکا هیوادونه غړیتوب لري.
د سارك د سوداگرۍ او صنایعو خونې پخواني رئیس افتخار علي ملك د سیمه ییزو اقتصادي همکاریو او د امکاناتو د خلاصولو پر اړتیا ټینگار کړی دئ؛ ترڅو د سیمي هیوادونو او په ځانگړې ډول له افغانستان سره په دې حساس وخت کې سوداگرۍ ته وده ور کړل سي.
هغه وایي، چې په سوېلي اسیا کې د سیمي په کچه سوداگري د خپل توان له درکه یو پر درېیمه (۱/۳) برخه کمه ده، چې وایي دا دې معنی ور کوي، گویا ٪(٦٧) له سوداگرۍ څخه گټه نه ده اخیستل سوې.
دا چې د یادي پاکستانۍ رسنۍ له خوا افغانستان ته د سیمي په کچه د نښلوونکي پُل په نوم خطاب سوی دئ؛ نو ځکه د افتخار علي خبري، چې راپور ته ئې کړي دي، په دې انداز رانقل سوي دي:
«د منځنۍ اسیا، منځنۍ ختیځ او سوېلي اسیا ترمنځ د وصلوونکي او د څمکني پُل په توگه د افغانستان رول باید په اوسنیو حالاتو کې وڅېړل سي؛ تر څو د سوداگرۍ او پانگوني پر زیاتولو تمرکز وسي.»
د ده په نظر نن هم افغانستان دسوېلي اسیا هیوادونو ته د تاجیکستان، ترکمنستان او اُزبکستان جمهوریتونو تېلو او گازو ته د مستقیم لاسرسي له پاره د یوې گټوري دروازې په توگه کتل کېږي.
وایي اقتصادي وده به افغانستان له بېوزلۍ څخه خلاص کړي.
افتخار علي ملك راپور ته یو بل ټکی هم واضح کړی دئ، چې وایي پاکستان له ایران او چین څخه وروسته د افغانستان درېیم لوی سوداگریز شریك دئ.


### د مالیې وزارت د گمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د گمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

### ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همېشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱



### د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواك آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندې ادرسونو له لارې شریك کړي.
ټلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ (+۹۳)
برېښنالیك: officialcomplaints@mof.gov.af